## م-ر شفق

دا څـۀ بـلا راپېښـه ده اوتـر خوبونـه وينـو
خپل کور کښې يو بې کوره، کوروکر خوبونه وينو
سپېرۀ يـو، خپله ژبه کښې اظهـار کولے نۀ شو
خبـر نـۀ يـو لـه ځانـه، بختـور خوبونـه وينـو
مـونږ شـپې سره منلي سـتا د زلفـو لـه خـاطره
نمر مخيه! ستا لـه مخه، د سحر خوبونه وينو
رقصـونه د پېغلوکـو او منګـي پـه قطـارونو
ډېـر تـږي د ديـدن يـو د ګـودر خوبونـه وينـو
کږ لـېچ بـه څنګـه راشي عقيده کښـې د مئينو
رقيبـه! مـخ دې تـور شـۀ، منـور خوبونـه وينـو
مئـين کـۀ پـه جمـال او پـه جـلال يـو د اجمـل
غـزل کښـې د حمـزه او قلنـدر خوبونـو وينـو
شـفقه! هېـر دې نـۀ شـي د ګلونـو موسـمونه
تـازۀ اوسـو د مينـې پـه ثمـر خوبونـه وينـو

## اقبال مومند

فرېب د دغه چم په سپينه لار پروت دے خو پټ دے
د هر سړي لستوڼي کښې ښامار پروت دے خو پټ دے
تـا هـم د محبـت پتـه جذبـه زړۀ کښـې ساتلې
زما په زړۀ کښې هم د مينې ښار پروت دے خو پټ دے
دے اوس هـم د ژونـدون د جهـنم پـه ژۍ ولاړ دے
د دې سړي په سترګو کښې انګار پروت دے خو پټ دے
يـو کـار د محبـت نـۀ دے چـې سـرته رسـول دي
زما خو په سر نور هم بلا کار پروت دے خو پټ دے
دا ځوکـه د دې غـر دا د قبلـې لـوري تـه ښـکاري؟
په دې ځوکه د امن ټېکېدار پروت دے خو پټ دے
يـو کـس د کـولمبس غونـدې پکـار دے د دې دور
دې ښار کښې په قدم قدم روزګار پروت دے خو پټ دے
يـو ورځ بـه دا بـارود بـارود فضـا ګـلاب ګـلاب شي
اقبالـه پـه دې خاوره کښـې بهـار پـروت دے خو پټ

## اکبر سيال

زمـــا جانــــان جانـــان وطنـــه- افغـــان وطنـــه
ســـتا د وجـــود اورونـــه
سـتا پـه دښـمن پـورې شه
ستا ګلالي ګلالي ګل ګل ځوانان- پـه وينو ولمبېدل
ستا ګل غوټۍ تنکي تنکي ماشومان- پـه وينو ولمبېدل
پـــه ګـــل درو کـــانې وربـــږي لـــه اسمان وطنـــه
ســـتا د وجـــود اورونـــه
سـتا پـه دښـمن پـورې شه
ستا زانې زانې زرکې زرکې سترګې- د وينـو دارې وهي
ستا تـورې تـورې تـوتکرکې سترګې- د وينـو دارې وهي
د بـڼ مرغـۍ پـه وينــو سـرې دي د ارمـان وطنـه
ســـتا د وجـــود اورونـــه
سـتا پـه دښـمن پـورې شه
ستا د هر غر د هر چنار په ځوکه- ستا د بچو غوښې دي
ستا د هرګل د هر يو خار په ځوکه- ستا د بچو غوښې دي
پـه ګـل درو کښـې دې مـاړۀ ګرځـي مارغـان وطنـه
ســـتا د وجـــود اورونـــه
سـتا پـه دښـمن پـورې شه
ستا دوه نسلونه ګلالي نسلونه- لوئې پـه بارودو کښې شول
د درد او مينې د وفـا رنګونـه- توئې پـه بارودو کښې شول
د هـــر ځيګـــر نـــه وينـــې څـــاڅي د خفګـــان وطنـــه
ســـتا د وجـــود اورونـــه
سـتا پـه دښـمن پـورې شه
ستا په دې تورو تورو غرونو کښې به- د ژوند ښکلا جوړوم
ستا په کوڅه کوڅه دشتونو کښې به- رنګ او رڼا جوړوم
زمـــا دلـــوړو غرونـــو ســـياله زمـــا شـــان وطنـــه
ســـتا د وجـــود اورونـــه
سـتا پـه د ښمن پـورې شه

## د امن فریاد

نور الامین یوسفزے

اے د دنګو دنګو غرونو سربازانو
اے خانانو، اے ترانو باتورانو
په غیرت باندې مئینو افغانانو
د عزت او د حُرمت دعویدارانو

یوه لور مو زیږیدلې ده تمبو کښې
د خونکار باچا د جبر په کندو کښې
د بارودو په ډیرې ناسته ده ژاړي
د خپل نوم په روئي چې امن درنه غواړي

وچې شونډې کړاغې سترګې ګونه زیږه
درته سوال کوي په سرو سترګو اجړه
زۀ د غرۀ لمن کښې لوبې کول غواړم
لکه حوره په جنت لوئیدل غواړم
د فطرت غېږ کښې خوبونه لیدل غواړم
په خوږه چینه کښې خُلۀ لګول غواړم
په یخ سیوري تاروګي رانیول غواړم
په وریځو پسې منډې وهل غواړم
درمال کنډاؤ ته پورته ختل غواړم
دنګو غرونو کښې خندل او ژړل غواړم

په ما ګرانو باباګانو مومینانو
درته سوال کوم کاکانو او ځوانانو
دا اورونو اورولو لوبه پریږدئ
د سرو وینو بهولو لوبه پریږدئ
د ګلونو رېژولو لوبه پریږدئ
د خپل ځان د شرمولو لوبه پریږدئ

په ما ګرانو ستاسو لُور دلته خفه ده
دلته سیورے نشته تکنه غرمه ده
دې تمبو کښې ژندګي څۀ عجیبه ده
دلته مونږ نه جوړه شوې تماشه ده

خپله مینه به وطن ته ورل غواړي
بد امني به چرته لرې شړل غواړي
د فطرت لمن له امن بوتلل غواړي
د جنګ اور باندې اوبۀ اچول غواړي
په سر تور سر به څادر اچول غواړي
لوپټه به ئې په سر سمول غواړي
دا فریاد د یوې لور دے خپل دادا ته
دا درخواست د یوې لور دے خپل بابا ته

## المیه

نواز یوسفزے

دا حادثه، دا المیه څۀ عجیبه غونډې ده
یا د دې زمکې خدائے څۀ عجیبه غونډې ده

د چا په خیال او تصور کښې هم راغلي نۀ وو
په ویښه څۀ چې چا په خوب کښې هم لیدلي نۀ وو

چې د دوزخ نه به جنت ته دروازه راوځي
د هر نختر نه د چنار نه به لمبه راوځي

خو داسې وشو، داسې کېږي خلقو ما ولیدل
یواځې ما څۀ چې څلور کُنجه دنیا ولیدل

اوس سرۀ اورونه د جنت په شنو باغونو ګرځي
د سرو اورونو شنۀ لوګي په اسمانونو ګرځي

خلق د خپل جنت د ښکلو باغیچو نه تخښتي
مارغان په غرونو باندې اوړي د لمبو نه تخښتي

د ماشومانو قلمونه، کتابونه سوځي
هم ئې سکولونه هم د لوبو ټالونه سوځي

په سر درو کښې ټوکېدلي ټول ګلونه سوځي
د جنتیانو د خوبونو تعبیرونه سوځي

په هر یو بڼ کښې د مارغانو اوازونه سوځي
په سندربوله ورشوګانو کښې سازونه سوځي

مونږ په جنت کښې د دوزخ لمبو وهلي خلق
لکه بازونه له شنو غرونو الوتلي خلق

نور هېڅ هم نۀ غواړو بس دغه یو ارمان لرو
یوه ارزو ده، یوه هیله په جهان لرو

زمونږ جنت کښې د اورونو سرچینه بنده کړئ
د جهنم نه راوتلې دروازه بنده کړئ

## سمندر یوسفزے

مونږ بې اوزاره بې هنره رانیوې کونترې
ځکه د لاسو نه زمونږه الوتې کونترې
ستا د خیرن نیت په ښکالو پوهه شوې وګرځېدې
ګنې زمونږ د بلې ځوکې ته راتلې کونترې
مونږه د امن د قیمت د زوره څه خبر وو
مونږ چې واړه وو، مونږ به هر ځائے کښې ویشتې کونترې
په شش و پنج کښې یم ولاړ د جنګ او امن په برید
چرته چې وینم په وینو تکې سرې کوترې
دغه د بل کلي ښکاریان دي ځي زمونږ د کلي
زمونږ په کلي کښې بلها کړلې دوې مړې کونترې
د خوده وتے ومه هسې تش کالبوت ولاړ وم
چې په نازونو شړنګولې پېکړې کونترې
نوم دې بدنام دے په نړۍ کښې سمندره هسې
نور دې شر بدې شي بلها بلها ساتې کونترې

## سراج الحق سراج

د امن په نامه چې فسادونه پېدا کېږي
انسان یمه په زړهٔ کښې مې دردونه پېدا کېږي
احساس لرم چې ګورمه تر کومې به خاموش یم
اخر په سمندر کښې هم موجونه پېدا کېږي
دا ستا د ستم تېغ نهٔ دے تېغونه د وفا دي
یو سر کهٔ چرته کټ شي نور سرونه پېدا کېږي
زما بې وسه اوښکې داسې هم بې تنګه نهٔ دي
سېلاب به شي له اهه! طوفانونه پېدا کېږي
ښائست ته ئې صحرا څهٔ چې دنیا ګوته په خُلهٔ شي
دې للمو کښې چې کله هم ګلونه پېدا کېږي
د ظلم او د جبر شپه کهٔ هر څومره اوږده شي
فطرت دے چې د شپو نه سحرونه پېدا کېږي
سراجه! اودهٔ قام اودې جذبې په ویښېدو دي
نغمو د بغاوت کښې دې خوندونه پېدا کېږي

## حنیف قیس

د شپې د زور د ماتېدو ملګري نهٔ مومه
د سپین سبا د ترانو ملګري نهٔ مومه

زهٔ د تیارو نه د وتو لارې خو پېژنمه
خو د رڼا په لور د تلو ملګري نهٔ مومه

بې د الوته نور ز مونږ د بقا جنګ نهٔ کېږي
خو زهٔ د بره الوتو ملګري نهٔ مومه

دا پردے جنګ راسره څوک د خپله کوره لر کړي
په پښتنو کښې پښتنو ملګري نهٔ مومه

په سواته ستا په ښائستونو باندې اور بلیږي
ستا حفاظت له زهٔ یو څو ملګري نهٔ مومه

دا ماحول څهٔ دے خو په مړو کښې ژوندون دے قیسه!
زهٔ د ژوندو ژوندو قصو ملګري نهٔ مومه

## خوشحال خان مفتون

هم ئې کوي هم وائې ښهٔ ونهٔ شو
په ما په دې کوڅو کښې څهٔ ونهٔ شو
د هغه تېرو پښتنو په قدم
د اوسنو پښتنو تلهٔ ونهٔ شو
چرته په هېره هم زما د ښکلي
زمونږه کلي ته راتلهٔ ونهٔ شو
په شونډو ډېر ځله بلا لوظونه
راسره وشو خو د زړهٔ ونهٔ شو
داسې سپرلي دې په بلا ولګي
په اننګو کښې چې مو سرهٔ ونهٔ شو
رنګ رنګ چپې چپې ښائسته ګلونه
دا ځل په سمه او په غرهٔ ونهٔ شو
د چا ازار دے کهٔ نظر خوشحاله
لا چې په ژوند کښې دې خوارهٔ ونهٔ شو